مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۱/۲۳

# فاسدان

هغوی د حکومت لوړې لوړې څوکۍ نیولې وې، یو یې د عدلي او قضایي ارګان، بل یې د لویې ښارنوالۍ، دریم یې د کورنیو چارو وزارت او څلورم یې په د ولسمشرۍ ماڼۍ دننه دندې درلودلې؛ له زرګونه جریبه ځمکه غصب کوونکي قوماندان ګران باچا سره کښېناستل او ټوله ورځ یې همدا غورې وکړې، چې حکومت مو پرمختګ کړی او زورواکي یې نیولې.

دوی له سهاره تر ماښامه د فساد ضد خبرې وکړې؛ خو کله چې د ډوډۍ وخت شو؛ نو د قوماندان په میلمستون کې سترګې خلاصې پاتې شول؛ ډوډۍ ته چې کښېناستل؛ نو یو یې وار له واره په چرګانو، بل یې په قورمه، بل یې قابلي پلاو، بل یې په وچه غوښه او همداراز، نورو غوره خوراکونو باندې پیل وکړ، ښه بې دریغه خوراک یې وکړ او د ډوډۍ په منځ منځ کې یې داسې وویل:

یاره کوماندان صاب الله دربانډې رحمېدلی، ته وګوره: ماهي، وچه غوښه، د ګډ غوښه، شوروا، قابلي پلاو، چرګان، رنګارنګ سلادونه او میوې؛ بس نو مزې دي دي مزې.

بل یې ویل: یاره نو که ربښتیا ووایم؛ په ژوند مې هم داسې خوراک نه و؛ کړی.

دریم یې ویل: زه له غوړو پرهیز وم او غټه غوښه راباندې ښه نه لګېده؛ نو وړه او وچه غوښه مې وخوړه، ډېر خوند یې وکړ.

څلورم یې ویل: قوماندان صاب دا خوراک، د خوراک ټول سامان او میلمستیا دې ډېره عظیمه وه، الله دربانډې مفتو کې رحمېدلی دی.

د خوراک له ختمېدو سره ورته قوماندان صیب په سترګو کې وکتل او وموسېده: بس نو د الله رحم و کرم دی؛ خو که خفه کېږئ نه؛ نو یو وړوکی بېګار دی؛ یو خبریال دی زما په ځمکو یې راپوړونه تیار کړي او عدلي، وزارت، لویې ښارنوالۍ، کورنیو چارو زوارت او ارګ ته یې لیږي؛ زه یې سخت ورخطاء کړی یم.

غوړه مالاو چاروکو وویل: بې غمه اوسه د داسې مفسدو ختمولو ته خو مونږ راغلي یو؛ خوښ به یې شو.

په دریمه ورځ خوار خبریال د نشه یي توکو د قاچاق په تور ۱۲ کاله زنداني شو او تر ننه یې چا پوښتنه ونکړه او قوماندان اوس هم قوماندان دی.

نومبر ۲۰۱۵
سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ